Social Science
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# پـــــــه اسلام کي د اطـــــاعت حدودو ته کـــــتنه

**نوماند پوهنیارمفتي حفیظ الله سعید.**
اسلامي ثقافت څانګه،شرعیات پوهنځی،زابل پوهنتون،زابل - افغانستان
ایمیل : hafizuallahsayed1234@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۰۸/۱۱ ، منل سوي:۱۴۰۴/۱۲/۱۹، خپره سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹، مخونه :۲۱۶-۲۳۱

**لنډیز**

دا چي په اسلام مبارك دین کي داطاعت حدودو موضوع په علمي ډګرکي له ډیرو مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کیږي ددې لپاره چي دموضوع سپړلو او څیړلواړوند کارسوی وي ترڅوچي دا علمي موضوع په بشپړه توګه روښانه سي،دموضوع څیړنیز هدف په اسلام کي داطاعت حدودو غوره اوڅرګند حکم رابرسیره اوسپړل دي،په دې سره به معلومه سي چي په اسلامي حکومت کي دا ولي الامر(حاکمانو) والدینو(موراوپلار) اوپرښځه دخاوند اطاعت په کوموحدودو کي کول کیږي ،د څیړنی د پایلي په توګه ویلای سو چي دڅیړني په جریان کي به داثابته سي چي داسلام مبارك دین داسي مبارك دین دی چي دټولو ټولنیزو اومهمو مسائلو وضاحت پکښي کړل سوی دی،ترڅو دامرونوپه اطاعت کي اتحاد او اتفاق رامنځته سي .

**کلیدي کلمي:**اسلام، اطاعت، حدود، کتنه، حکم

## حدود الــــطـــاعة في الاسلام

**نوماند پوهنیارمفتي حفیظ الله سعید**
اسلامي ثقافت څانګه،شرعیات پوهنځی،زابل پوهنتون،زابل - افغانستان
Email: hafizuallahsayed1234@gmail.com

**ملخص**

هذالمقال بعنوان(حدودالطاعةفي الاسلام)یشتمل علی المقدمة، ومشکلةالتحقیق،واهداف التحقیق، وسؤال التحقیق واهمیةالموضوع،والاثار الماضیة في التحقیق وطریقةالتحقیق.

وتعد مسألة حدودالطاعة في الاسلام من اهم الموضوعات في المیدان العلمي،ولأجل بیانها وکشف ابعادها اجري هذا البحث لیتجلی الحکم الشرعي الاوضح في هذه المسأله. وتهدف الدراسة الی بیان حدود طاعة اولي الامر(الحاکم)،والوالدین،والزوج في حق زوجته،ضمن اطار دین الاسلام. وتلخص النتائج الی انّ دین الاسلام دین مبارک قد بیّن جمیع القضیا الاجتماعیة والمصیریة بوضوح،بما یحقق وحدةالصف والاتفاق في طاعةالاوامر المشروعة.

## سریزه

الحمد لأهله والصلاة علی اهلها امابعد:

ددې لپاره چي موضوع مو ښه روښانه سوې وي داسلام مبارک دین یوعمومي نظام دی چي پکښي دهرڅه اړوند څرګندوني وجود لري چي ددې څخه یوهم په اسلام کي داطاعت حدودو موضوع له اړینو ټکو څخه ګڼل کیږي.ستونزه دا وه چي په اسلام کي داطاعت حدودو موضوع اړوند عامه پوهاوي شتون نه درلود او په ډیرو ځایونو کي له واجب اطاعت څخه سرغړونه کیده،په همدې وجه دا څیړنه غوره سوه چي موجوده ستونزو ته رسیدنه اوپروخت دهغې حل لاره وموندل سي.د څیړني ارزښت په

دې کیده چي په اسلام کي داطاعت حدودو موضوع څېړل به وکولای سي،چي ټولنه د اتحاد او اتفاق لوري ته سوق کړي او داطاعت حدود به په خپل ځای کي مراعت سي. دڅېړني اساسي هدف په اسلام کي داطاعت حدودومعلومول دي ترڅو دخپلو ديني امورو تقويه او په سمه توګه پالنه وسي او په دې څېړني سره به د هغو پښتنو،چي داطاعت حدودو مطلب څه دی؟ په اسلام کي داطاعت حدود څه دي ترڅو په اجتماعي ژوند کي مراعت سي؟ جواب و ويل سي.داچي پخوا په اسلام کي داطاعت حدودو په هکله کومي څېړني ترسره سوې دي هغه تردېره حده په عربي ژبه کي دي دمروجو ادبياتو اوزمونږ له پوهي اوسويې څخه لوړي دي له همدي کبله يي دڅېړني اړتياليدل کيږي اوپه دې سره کوښښ وسي چي په علمي او اکاډيميکو ادبياتو برخه کي په خپله پښتو ژبه کي يوڅه نور ورزيات اوپداسي حدکي پرې کاروسي،چي هرڅوک په اساني سره وکولای سي دموضوع په هدف پوه سي او دا څېړنه په کتابتوني بڼه غوره سوې ده او داسلامي فقهي له معتبرو کتابونو په کښې کار اخيستل سوی دی. د دې څېړني په تر سره کولو سره دې پايلي ته ورسيدو چي په اسلام کي اطاعت په خپلو ځايونو کي کله واجب،مستحب او په غير شرعي امورو کي حرام بلل کيږي .

**دڅېړني ستونزه**

ستونزه داوه چي زمونږ په ټولنه کي دامام/حاکم،پلار،زوج،عالم داطاعت حدودو موضوع اړوند عامه پوهاوی وجود نلري،حتی ځيني کسان په ښکاره ډول له فرض او واجب اطاعت څخه سر غړونه کوي ددې لپاره چي په ټولنه کي ددې ستونزي دحل لپاره کارسوی وي داسلامي ثقافت څانګي له پلوه ياده موضوع ټاکل سوی ده ترڅو موجوده ستونزي ته پدې څېړنه جواب ويل سوی وي.

**دڅېړني موخي**

هغه علمي اواکاډيميکي موخي چي بايدددې څېړني له لاري ترلاسه سي په کوټلي توګه عبارت دي له:

۱:دڅېړني اصلي هدف داده چي په اسلام کي داطاعت حدودو موضوع په روښانه توګه نده څېړل سوې ترڅو ددې څېړني په مټ وکولای سو مرموز ټکي رابرسيره،په مروجو اکاډيميکو افغاني ادبياتو کي زمونږ دټولني لپاره روښانه اوڅرګند سي.

۲:دنبوي احاديثو،اسلامي فقه په رڼا کي په اسلام کي داطاعت حدودو بيلګي په ګوته کول دي ،څووکولای سو له هغه څخه ديوثابت فقهي حکم په توګه مثبته ګټه واخلو.

## دڅېړني پوښتني

۱- په اسلام کي داطاعت حدودو مطلب څه دی؟

۲- په اسلام کي داطاعت حدودو حکم اړوند اختلاف وجودولري هغه به څه ډول وي؟

۳- په اسلام کي داطاعت حدود کوم دي ترڅوپه اجتماعي ژوندکي مراعت سي ؟

## دموضوع ارزښت

څرنگه چي موږ وينو په اسلام کي داطاعت حدودو ارزښت ښکاره په ډاگه اوڅرگندو ټکو کي په لاندي توگه ورڅخه يادونه کيږي:

۱- په اسلام کي داطاعت حدود يو له هغو موضوعاتو څخه ده چي پدي پوهه کولی سي زموږ دهيواد پرتوستونزو په پورته کولو اويا لږ تر لږه کمولو او اسانه کولو کي زياته مرسته وکړي.

۲- په اسلام کي داطاعت حدود دنبوي احاديثو،اسلامي فقه څخه سرچينه اخلي،چي دا تعلق هم دموضوع پراهميت دلالت کوي.

۳-په اسلام کي داطاعت حدودو موضوع په څېړلو سره کولای سو ټولني ته عامه پوهاوی ورکړو،ترڅوپه کورنی،ټولنه،منطقه اوهيواد کي اتفاق رامنځته سي.

## دموضوع په اړه مخکينی ليکني

اسلامي کتابتون په مجموع کي ډيرڅه لري قران کريم،نبوي احاديث،اسلامي فقه پدي اړه تر ټولو ستري،منابع اوسرچينې دي نبوي احاديث ديودينې متن په توگه په خپله دغه مزل وهلی دی او اسلامي فقه له قران او احاديثو څخه ديومستنبط قانون په توگه ورسره ملگرې پاتي سوې.

په اسلام کي داطاعت حدودو موضوع خورا مهمه ده په زياتو جزياتو سره په تيته اومتفرقه بڼه دپيغمبر صلی الله عليه وسلم په احاديثو او د اسلامي فقه په کتابونو کي پرته ده حديث پوهانو اوفقهاوو دحديثو اوفقه په سترو کتابونو په اسلام کي داطاعت حدودو په اړه څېړني تر سره کړيدي اوهلته يي په فقه کي داطاعت حدود اړوند احاديث اوفقهي اجتهادي مسايل راټول کړي او له هغو څخه يي په خپل اجتهاد سره گټور او اړين مسايل استنباط کړي دي:

۱ - داوقافو او اسلامی چارو وزارت(۱۴۰۴-۱۴۲۷س)الموسوعةالفقهيةالکويتية،الکويت:طبع الوزارة دارالسلاسل.

۲- منصور ميراحمدي دچاپ کال(۲۰۲۳) الحکومةفي القران والسنة، مفهوم الطاعة وضرورتها في الحکومة القرانية،مجلةعلمية نصف سنوية۲۰۲۳

۳-مسعري،محمدبن عبدالله،دچاپ کال:(۱۴۲۳ه) طاعةأولي الامر حدودهاوقيودها،لجنةالدفاع عن الحقوق الشرعية.

۴- صالح،علي سليمان،دچاپ کال:(۲۰۱۹م)حدودو طاعة رئيس الدولة في الشريعة الاسلامية،مجلة الحقوق،العدد:۳.

۵- عيسي،عماربن ابراهيم،دچاپ کال:(۲۰۲۰م)حدود الطاعة الشرعية لولاة الامر،مجلة الرواء،العدد الخامس.

٦- خلاف،عبدالوهاب،دچاپ کال:(۱۹۸۸م) السياسة الشرعية في الشؤون الدستورية والخارجية والمالية،

**دځیرني تګلاره**

له کومه ځایه چي دځیرني موضوع په اسلام کي داطاعت حدود دنورو موضوعاتو په څیر اساسا یوه بشپړه علمي موضوع ده اوتر ډیره حده په نبوي احادیثو اسلامي فقه او دهغو ترشروحو پوري تړلي ده څکه دځیرني کړنلاره کتابتوني غوره سوي ده اوکوښښ سوی دی چي له باوري اومعتمدو سرچینو څخه استفاده وسي.

**په اسلام کي داطاعت حدود**

پورته ذکر سوي موضوع یومرکب تعبیر ده،مخکي تردې چي د موضوع وضاحت وکړل سي دموضوع مفردات اسلام،اطاعت،حدود په ځانته ځانته توګه واضح کوو.

**اسلام پېژندنه:**

اسلام په عربي اصطلاح مصدرده په لغت کي انقیاد(غاړه ایښوول)،اوخضوع ته ویل کیږي،عربو به ویل:(اسلم واستسلم، ای انقاد) یعني غاړه یې ایښې وه.

پردې ماده ښه شاهد دا قول دالله ﷻ ده:( ﴿ فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ ﴾ (الصافات:۱۰۳) پس کله چي غاړه یې کیښوده دواړو حکم دالله ﷻ ته او وایه چاوه دغه اسمعیل ﷺ پرښې اړخ دده.

(۱) ( استسلام جميع الخلائق لأوامر الله تعالى الكونية القدرية.) (شبكةالالوكة ، sharia ، https://www.alukah.net )ژباړه: اسلام دالله ﷻ ټولو کَوني اوقدري اوامرو ته تسلیمیدل دي.داسلام دې معنی ته دقران کریم په دې آیت مبارک کي اشاره سوې ده﴿ أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴾ (-آل عمران:۸۳)

ژباړه:ایا نو غیر له دین دالله ﷻ ځني غواړي دوي بل دین حال داچي خاص دالله ﷻ ته غاړه ایښې ده هرهغه چه په اسمانونو کي دي،له علویاتو اوپه ځمکه کي دي له سفلیاتو سره له اسمانونو اوځمکو،په خوښه یا په زوره.تفسیرکابلی:جلد:۱ صفحه:۳۱۸.

په پورته توګه ویلای سو:چي هرمخلوق دالله ﷻ دحکمونوتابع اومطیع دی،اوهغه تعالی ته دکائناتي اوتقدیري امرونو پر وړاندي تسلیم سوی دی،خوښ وي که ناخوښ؛ځکه مخلوق دصحت اومرض،ژوند اومرګ،شتمني اوبېوسي اوداسي نوروچارو په اړه هیڅ واک نه لري،په دې معنی داسلام (یعني دالله ﷻ دتقدیرپروړاندي تسلیمیدل)کي دهیچا لپاره پربل غوره والی نسته،بلکي په دې کي مؤمن اوکافر،نیک اوګناهګار،حتی حیوانات اوټول مخلوقات شریک دي،لکه څرنګه چي په مخته آیت مبارک(وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ) کي یې هم یادونه وسوه.

(۲) (الاستسلام والانقیاد لأوامر الله تعالی الشرعیة) (شبکةالالوکة، https://www.alukah.net sharia) ژباړه:دالله ﷻ ټولوشرعي اوامروته غاړه ایښوول اوتسلیمیدل دي.

همدارنګه په تعریفات دامام جرجاني صاحب کي داسلام تعریف داسي کوي: الخضوع والانقیاد لما أخبر به الرسول صلی الله علیه وسلم.) (جرجاني،۸۱٦ هـ،ص۲۳) ژباړه:اسلام عاجزي اوغاړه ایښودلو ټولوهغه اوامراو اونواهي ووته چي رسول الله مبارك یې اخبارکړی وي

اسلام په دې معنی دوقسمه ده(۱)عام اسلام (۲)خاص اسلام.

دعام اسلام تعریف:( هو الدین الذي جاء به الأنبیاء جمیعًا.) (جرجاني،۸۱٦ هـ،ص۲۳) ژباړه:عام اسلام هغه دین ته ویل کیږي چي ټولوانبیاوو راتګ په کړی وو.که په اسانه تعبیرووایو:چي عام اسلام دټولو انبیاوو دین اوتګلاري ته ویل کیږي،یوازي دمحمد ﷺ تردین پوري خاص نده.الله ﷻ فرمایي: ﴿ إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ﴾ (سورةالمائدة:۴۴) ژباړه:بیشکه موږ نازل کړی دی تورات چي په هغه کي هدایت اورڼا سته،حکم به کاوو په هغه سره انبیاوو دبني اسرائیلو،هغه انبیاء چي حکم منونکي وو،هغه کسانو ته چي یهودیان وو،اوحکم به کاوو رباني عارفانو اوعالمانو ددوي،په سبب دهغه سي چي طلب دحفاظت یې سوی وو له دوي څخه چي کتاب دالله دی اودوي په هغه باندي شاهدان وو،نو مه ویریږئ تاسي له خلګو نه او وویریږئ له ماڅخه اومه اخلئ تاسي په آیاتو زما

لږقیمت(چي هغه رشوت اوجاه دی) او هرچا چي ونه کړحکم په هغه سي چي نازل کړی دی الله ﷻ نودغه کسان هم دوي دي کافران(تفسیرکابلی:جلد:۱ صفحه:۶۴۴)

همدارنګه الله ﷻ په بل آیت مبارک کي له نوح علیه السلام مبارک څخه حکایت کوي: ﴿ فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلاَّ عَلَى اللَّهِ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴾ (سورةیونس:۷۲) ژباړه:نو که وګرځیدئ تاسي،پس نه ده غوښتی ما له تاسوڅخه هیڅ اجر،نه ده اجر زما مګر پرالله ﷻ او امر سوی دی ماته په دې چي اوسم زه له مسلمانانو(راسخو غاړه ایښودونکو څخه الله ﷻ ته)

دخاص اسلام تعریف:( هو الدين الذي جاء به نبينا محمد صلى الله عليه وسلم) (شبکةالالوکة. (https://www.alukah.net › sharia ژباړه: خاص اسلام هغه دین ته ویل کیږي چي پیغمبر ﷺ راتګ په کړی وو. نبي کریم ﷺ په خپله دخاص اسلام تعریف داسي کړی ده:(الْإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا) ( نیسابوري،۲٦۱ ج۱ ص۲٦) ژباړه:اسلام عبارت ده له شاهدي ورکولوچي لائق دعبادت نسته مګر یوازي الله ﷻ ده،اومحمد ﷺ داالله ﷻ رسول ده،ته اقامت دلمانځه کوه،ورکړه دزکات وکړه،روزه ونیسه،دبیت الله شریفي حج وکړه که دې طاقت دلاري وو.

**۲ - داطاعت پیژندنه:**

داطاعت کلمه له طاعت څخه را اخستل سوې ده طاعت په لغت کي انقیاد(غاړه ایښوولو) ته ویل کیږي،عربو به ویل:(اطاعه،اطاعة،ای:انقاد) (افریقي،۷۱۱ هـ ج۸ ص ۲۲۲) ژباړه:غاړه یې ایښې وه غاړه ایښوول.

داطاعت اصطلاحي معنی د علماوو په اتفاق یوه ده، که څه هم په الفاظو کي تفاوت لري،امام جرجاني رحمه الله په التعریفات للجرجاني کي اطاعت معنی داسي کوي:( أنها: موافقة الأمر طوعا.) ( جرجاني،۸۱٦هـ ص ٦) ژباړه:دامر منل په خوښه اورضا سره. همدارنګه امام کفوي رحمه الله دطاعت تعریف داسي کوي:( هي فعل المأمورات ولو ندبا، وترك المنهيات ولو كراهة) (کفوي،۱۰۹۴ هـ ج ۱ ص۸۳) ژباړه:طاعت داده چي دهغو کارونوعمل وسي چي امر پرې سوی وي،که څه هم مستحب وي،او له هغو کارونوڅخه ځان ووساتل سي چي منع سوي وي که څه هم مکروه وي.

**۳- دحدودو پیژندنه:**

حدود جمع دحد دی حد په لغت کي منع ته وايي،په همدې خاطر دروازوان/پیره دار ته حداد ویل کیږي؛ځکه هغه هم له داخلیدلو څخه منع کوي،آیت مبارک کي الله ﷻ فرمايي: **{تلك حدود الله فلا تقربوها }** (سورةالبقرة:۱۸۷) داحکام حدود دالله ﷻ دي نو مه نژدې کیږئ دوي ته.

حد په اصطلاح کي هغه عقوبت(عذاب) ته ويل کيږي چي تقدير يې واجب دالله ﷻ دحق په خاطروي،البته په دې موضوع کي:(**په اسلام کي داطاعت حدود**) له حدود څخه مقصد هغه حکم داطاعت یعني فرض،واجب،سنت اومستحب اطاعت ده او له حد څخه مقصد هغه اندازه داطاعت ده چي د يو امر په څومره اندازه کي اطاعت کیږي.

**په اسلام کي داطاعت حدودو ترکیبي تعریف:**

په اسلام کي اطاعت دالله ﷻ حاکمیت،درسول الله ﷺ دسنتو او امام اوامر اونواهي منل دي؛چي پکي دفرضو او واجبوترسره کول،دسنتو عمل اودحرامو اومکروهاتو پريښودل دي،البته دا اطاعت يوازي تر هغه حده واجب دی،چي د شريعت له چوکاټ څخه ونه وځي،او په معصيت کی دهیڅ انسان اطاعت نسي کیدلای. (مسعري،۲۰۰۲م،ص ۳۲)

**داطاعت حکم**

**۱- اطاعت دالله ﷻ:**

دالله اطاعت ﷻ مطلقاً پرهرمکلف باندي فرض دی،هیڅ قيد پکښي نسته،الله ﷻ فرمايې:﴿ يا أيها الذين آمنوا أطيعوا الله وأطيعوا الرسول ولا تبطلوا أعمالكم﴾ (سورة محمد:۳۳) ژباړه:ای هغوکسانو چي ايمان يې راوړی دی(یعني ای مؤمنانو) اطاعت کوئ دالله ﷻ اواطاعت کوئ درسول الله ﷺ اومه باطلوئ تاسي عملونه خپل په معاصیوسره.

**۲- اطاعت درسول الله ﷺ:**

کله چي ايمان پررسول الله ﷺ اوتصدیق پرټولوهغه احکامو چي رسول الله ﷺ راتګ په کړی ده واجب دی،نو اطاعت درسول الله ﷺ هم واجب دی،الله ﷻ فرمايې: ﴿ يا أيها الذين آمنوا أطيعوا الله ورسوله ولا تولوا عنه وأنتم تسمعون﴾ (سورةالانفال:۲۰) ژباړه: ای هغوکسانو چي ايمان يې راوړی دی(یعني ای مؤمنانو) اطاعت کوئ دالله ﷻ اواطاعت کوئ درسول الله ﷺ اومخ مه ګرځوئ تاسي له دې اطاعت درسول ﷺ څخه حال دا چي تاسي اورئ.همدارنګه په بل آیت مبارک کي الله ﷻ فرمايې: ﴿وأطيعوا الله والرسول لعلكم ترحمون﴾ (سورةآل عمران:۱۳۲) ژباړه:اطاعت د الله ﷻ وکړئ اواطاعت درسول الله ﷺ وکړئ ددې دپاره چي پر تاسي رحم وکړل سي.

په پورته ایاتونو کي الله ﷻ درسول الله ﷺ اطاعت دالله ﷻ له اطاعت سره یوځای ذکر کړی ده چي همدا يې پروجوب دلالت کوي. همدارنګه ابوهریرة رضي الله عنه په حدیث مبارک کي روایت کوي:( أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من أطاعني فقد أطاع الله. ومن عصاني فقد عصى الله)( سیوطي،۹۱۱هـ ج ۸ص ۵۸۰) ژباړه ابوهریرة رضي الله عنه وايي:چي ده له رسول الله ﷺ څخه واوریدل:چي هغه ویل :چاچي زما اطاعت وکی،هغه دالله ﷻ اطاعت کړی دی،اوچاچي زما نافرماني وکړه هغه دالله ﷻ نافرماني کړې ده.

## ۳-داولي الامر(حاکمانو)اطاعت:

دالله ﷻ اورسول الله ﷺ تراطاعت ورسته دریمه رتبه داولي الامر(حاکمانو)اطاعت دی،لکه ایت مبارک کي هم داسي په ترتیب ذکرسوي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ) (سورةالنساء:۵۹) ژباړه: ای هغوکسانو چي ایمان يې راوړی دی(یعني ای مؤمنانو) اطاعت کوئ دالله ﷻ اواطاعت کوئ درسول الله ﷺ او اطاعت کوئ داولي الامر(حاکمانو) . په همدې وجه دټولو علماوو اتفاق دی،چي داولي الامر(حاکمانو)اطاعت واجب دی،ترهغه وخته چي امر يې په معصیت نه وي کړی،په الموسوعةالفقهية الكويتية کي داولي الامر داطاعت په اړه لیکي:( أجمع العلماء على وجوب طاعة أولي الأمر من الأمراء والحكام، وقد نقل النووي عن القاضي عياض وغيره هذا الإجماع، قال تعالى: ﴿يا أيها الذين آمنوا أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم﴾ (سورةالنساء:۵۹) وقد ذهب جمهور الفقهاء والمفسرين إلى أن المقصود بأولي الأمر في الآية: الأمراء وأهل السلطة والحكم، وهناك قول بأن المقصود بأولي الأمر في الآية هم العلماء، قال الطبري: وأولى الأقوال في ذلك بالصواب قول من قال: هم الأمراء والولاة، لصحة الأخبار عن رسول الله صلى الله عليه وسلم بالأمر بطاعة الأئمة والولاة فيما كان طاعة لله وللمسلمين مصلحة) (اسلامي چارو وزارت،۱۴۲۷هـ ج ۲۸ ص ۳۲۳) ژباړه: امام نووي رحمه الله له قاضي عیاض رحمه الله څخه نقل کړی دی،چي دټولو علماوو اتفاق دی چي داولي الامر(حاکمانو) اطاعت واجب دی؛ځکه الله ﷻ فرمايي: ای هغوکسانو چي ایمان يې راوړی دی(یعني ای مؤمنانو) اطاعت کوئ دالله ﷻ اواطاعت کوئ درسول الله ﷺ او اطاعت کوئ داولي الامر(حاکمانو).جمهور فقها اومفسيرین وايي: چي مقصد له اولي الامر څخه حاکمان دي.

## ۴- دعلماوو اطاعت:

دعلماوو اطاعت هم واجب دی ؛ځکه په همدې الموسوعةالفقهيةالكويتية كي وايي :( طاعة العلماء واجبة، لقوله تعالى ﴿يا أيها الذين آمنوا أطيعوا الله وأطيعوا الرسول وأولي الأمر منكم﴾ (سورةالنساء :۵۹)حيث ذهب جابر بن عبد الله، وابن عباس رضي الله عنهم في رواية - ومجاهد وعطاء والحسن البصري وأبو العالية إلى أن المقصود بأولي الأمر في الآية هم العلماء والفقهاء، وهو قول لأحمد، واختاره الإمام مالك، وبه قال ابن القيم قال مطرف وابن مسلمة: سمعنا مالكا يقول: هم العلماء.)ژباړه:دعلماوو طاعت واجب دی ؛ځکه الله ﷻ فرمايي: ای هغوکسانو چي ايمان يې راوړی دی(يعني ای مؤمنانو) اطاعت کوئ دالله ﷻ اواطاعت کوئ درسول الله ﷺ او اطاعت کوئ داولي الامر(حاکمانو). جابربن عبدالله،عبدالله بن عباس رضي الله عنهم،او همدا رنګه پورته ذکرسوي علما وايي چي مقصد له اولي الامر څخه علما دي.

**۵- دوالدينو(مور اوپلار) اطاعت**

دوالدينو(مور اوپلار) اطاعت او له هغوي سره احسان پر اولاد باندي فرض دی، دا اطاعت او احسان د والدينو(مور اوپلار) يوازي تر هغه والدينو پوري ندی خاص چي مسلمانان وي،حتی که والدين غيرمسلمانان وي هم اولاد مکلف دی چي احسان ورسره وکړي،ترڅو چي امر يي په معصيت نه وي کړی. الله ﷻ فرمايي: ﴿وقضى ربك ألا تعبدوا إلا إياه وبالوالدين إحسانا إما يبلغن عندك الكبر أحدهما أو كلاهما فلا تقل لهما أف ولا تنهرهما وقل لهما قولا كريما واخفض لهما جناح الذل من الرحمة وقل رب ارحمهما كما ربياني صغيرا﴾ (سورةلاسراء:۲۴/۲۳) باړه:او حکم فرمايلی دی رب ستا چي عبادت مه کوئ تاسي دبل هيڅا مګر يواځي دهم دغه الله ﷻ او احسان کوئ له والدينو(مور اوپلار) سره په احسان کولوسره او که چيري هرومرو ورسيد له تاسره زړوالي ته يو له دوي دواړو او يادواړه نو مه وايه ته دوي دواړو ته کلمه د(اف) او مه رټه دوي دواړه او وا دوي دواړوته خبره پسته(ادبناکه) اوښکته کړه دپاره د دوي دواړو وزر دتواضع نه دتکبر له مهرباني او ووايه ربه زما مهرباني وکړه او بخښنه وکړه دوي دواړو ته لکه چي تربيه يي کړې وه په هغه حال زما چي زه کوچنی وم.

**٦-د زوج ( خاوند) اطاعت**

پر ښځه دخاوند اطاعت هم واجب دی الله ﷻ فرمايي:﴿ الرجال قوامون على النساء بما فضل الله بعضهم على بعض وبما أنفقوا من أموالهم﴾ (سورةالنساء:۳۴) ژباړه: سړي حاکمان مقرر شوي دي پر ښځو باندي په سبب د دې چي فضيلت ورکړی دی الله ﷻ ځيني د دوي ته پر ځينو نورو باندي او په سبب د دې چي نفقه کوي دوي پر دغو ښځو له مالونو خپلو.

امام قرطبي رحمه الله ددې آیت مبارک په تفسیرکې وایي:( قیام الرجال على النساء هو أن يقوم بتدبيرها وتأديبها، وإمساكها في بيتها ومنعها من البروز (أي الخروج) ، وأن عليها طاعته وقبول أمره ما لم تكن معصية) (قرطبي،٦١١ هـ،ج٥ ص١٦٩) ژباړه:دسړو سر پرستي پرښځو دادی:چې سړی دښځې پالنه ،سمبالښت اواصلاح وکړي،او هغه په خپل کورکې وساتي،او له ښکاره کیدو(یعني له کوره بهر وتلو یې منع کړي اوپر ښځه واجب دی چې دخاوند اطاعت وکړي او دهغه امر ومني،ترهغه چې دالله ﷻ نافرماني (گناه پکښې نه وي

همدارنگه حضرت انس رضي الله عنه روایت کوي:( عن أنس أن رجلا انطلق غازيا وأوصى امرأته: أن لا تنزل من فوق البيت، وكان والدها في أسفل البيت، فاشتكى أبوها، فأرسلت إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم تخبره وتستأمره فأرسل إليها: اتقي الله وأطيعي زوجك ثم إن والدها توفي فأرسلت إليه صلى الله عليه وسلم تستأمره، فأرسل إليها مثل ذلك، وخرج رسول الله صلى الله عليه وسلم وأرسل إليها: إن الله قد غفر لك بطواعيتك لزوجك) (غزي،١٠٦١ هـ ج٢ ص٤٩٥) ژباړه: دحضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې:یو سړی دجهاد دپاره روان سو او خپل ښځې ته یې وصیت وکړ:ته باید دکور له بامه(چت) څخه ښکته نه سې، په داسې حال کې چې دښځې پلار دکور په ښکته پوړ کې اوسیده،نو پلار یې ناروغ سو،نوښځې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته یو کس ولیږه،خبر یې کړ او اجازه یې ترې وغوښته،چې دپلار لیدو ته لاړه سي،نورسول الله ﷺ هغې ته داسې پیغام واستاوه: چې له الله ﷻ څخه وبیریږه او دخپل خاوند اطاعت وکړه. وروسته دهغې پلار وفات سو،بیا یې یو کس واستاوه چې له رسول ﷺ نه اجازه واخلي،چې ښځې په جنازه کې گډون وکړي، نورسول الله ﷺ بیرته هغه پیغام ورکی، چې له الله ﷻ څخه وبیریږه او دخپل خاوند اطاعت وکړه،وروسته رسول الله ﷺ ووت او هغې ته یې پیغام واستاوه،چې بیشکه الله ﷻ د دې لپاره چې تا دخپل خاوند اطاعت وکړ تاته بخښنه وکړه.

**داطاعت حدود**

دالله ﷻ اورسول الله ﷺ اطاعت هیڅ حد او قید نلري،بلکې مطلقا پرهر مسلمان اطاعت دامر اونهې فرض او وجب دی دالله ﷻ اورسول الله ﷺ څخه ماسوا دنورو اطاعت حدود اوقیدونه لري.

**۱- دحاکم د اطاعت حدود:**

د خلیفه او مشر اطاعت به تر هغه حده کیدای سي چې د خلیفه او حاکم حکم دشریعت سره موافق وي او کله چې د شریعت سره تضاد ولري اطاعت یې جائز نه دی؛څکه عبدالله بن عمر رضي

الله عنه یو حدیث روایت کوي:( روى عبد الله بن عمر رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: السمع والطاعة على المرء المسلم فيما أحب وكره ما لم يؤمر بمعصية، فإذا أمر بمعصية فلا سمع ولا طاعة ) (عسقلاني، ۱۳۸۰هـ ج ۱۳ ص۱۲۳) ژباړه: پر مسلمان لازم دي چي (د مشرانو) خبره واوري او اطاعت وکړي، که هغه ته خوښه وي او که بده، تر هغه وخته چي په ګناه امر نه وي سوی، خو که د ګناه امر وسي، بیا نه اورېدل سته او نه اطاعت.

ددې تفصیل دفقهاء کرامو د اقوالو په رڼا کي په لاندي موادو کي علامه محمد اسحق صدیقي رحمه الله ذکر کړی دي :

(۱) دمسلمانانو خلیفه او یادده نائب اویاپه نورو الفاظو اسلامي حکومت داسي حکم صادرکړي چي هغه شرعا جائز وي او په دې باندي عمل کولوکي انفرادي او یا اجتماعي منفعت وي او ددې حکم منفعت بالکل واضح وي نو په دې حکم باندي عمل کول او په دې حکم کي دحکومت اطاعت د مملکت په هر اوسیدونکي باندي واجب دی او ددې نه منل او خلاف کول کبیره ګناه ده. (حقاني،۱۴۲۵ هـ ،ج۱ ص۳۹۹)

(۲) دمسلمانانو خلیفه او یادده نائب داسي حکم صادر کړي چي هغه په حدودو دګناه کي یقیناداخل نه وي مګر داچي داحکم په انفرادي اویا اجتماعی لحاظ سره نفعمند او یا مضر دې دهغه خلګوپه مینځ کي چي اهل الرأی دي او حکم هم ورته شوې وي مختلف فیه وي نوپه دې صورت کي ددې حکم اطاعت هم فرض او واجب دي . (حقاني،۱۴۲۵ هـ ،ج۱ ص۳۹۹)

(۳) خلیفه او یا دده نائب داسې حکم صادر کړي چي هغه ښکاره ګناه وي په دې صورت کیددي حکم اطاعت واجب لاځه کوې چي جائز هم نه دی. (حقاني،۱۴۲۵ هـ ،ج۱ ص۳۹۹)

(۴) خلیفه اویادده نائب داسې حکم صادر کړي چي هغه شرعا رواوي مګرد مخصوصو حالاتو د وجې نه داحکم یقینی چي ډېر ضررناک وي برابره خبره ده چي ضرریي انفرادي وي او یا اجتماعي نوپه دې صورت کي هم ددي حکم اطاعت واجب نه دې بلکي په جواز کي یې هم دعلما و خبره شته.

امام طبری رحمه الله چي په (۳۱۰هـ) کې وفات شوي داولی الأمر منکم په تفسیر کي لیکلي دي : (وأولي الأقوال في ذلك بالصواب قول من قال هم الأمراء والولاة لصحة اخبار عن رسول الله صلي الله عليه وسلم للامر بطاعة الأئمة والولاة فيما كان طاعة ، وللمسلمين مصلحة ). ژباړه:په دې ځاې کي حق ته ډېر نزدې دهغه چاویناده چي هغه وائي چي : دأولوا الأمرنه مراد آمران او حاکمان دي ځکه چي درسول الله صلی الله علیه وسلم نه په احادیثو کي امر ثابت دې په اطاعت د حاکمانو سره . چي دابه په

دوه شرطونوسره مشروط وي : یوداچي دابه دشریعت سره مطابق وي دوهم داچي په دې کې به د مسلمانانو مصلحت وي . دفقهی دقواعد ونه یوه قاعده داده : ( التصرف على الرعية منوط بالمصلحة ) په رعیت کې دحاکم ټول هغه دنیوي تصرفات او احکام به نافذوي چې په هغې کې مصلحت وي او که چیرته په مصلحت بنا نه وي نوبیا به داحکم نافذنه وي او مراد د حاکم نه عام دي هغه که خلیفه او د اسلامي دولت مشروي او که لاندې حاکم وي .علامه احمد الزرقاء رحمه الله لیکلي دي :

والمراد كل من ولى أمراً من أمور العامة عاما كان كالسلطان الأعظم، أو خاصاكمن دونه من العمال فإن نفاذ تصرفات كل منهم على العامة مترتب على وجود المنفعة في ضمنها لانه مامورمن قبل الشارع صلى الله عليه وسلم أن يحوطهم بالنصح

مراد دراعي او حاکم نه هر هغه شخص دې چاته چې دعامه امورونه یوامر سپارل شوې وي اودي مسئول وي بیا عام ددینه چې داعام وي لکه خلیفه او پادشاه او که خاص وي لکه لاندي حاکمان او داځکه چې دهر حاکم تصرفات په رعیت باندي دامرتب وي په وجود د منفعت باندې چې دده په تصرفاتو باندې به منفعت مرتب وي او داځکه چې شارع علیه الصلوة والسلام له خواحاکم ته حکم شوي چې دخلکو خیر خواهي او مصلحت به غواړي . (حقاني،۱۴۲۵ هـ ،ج۱ ص۳۹۹)

(۵) خلیفه اویادده نائب داسې حکم صادر کړي چې دهغې د تعمیل په نتیجه کې دمامورینوپه مینځ کې اختلاف وي یعنی بعضي خلك ورته مفیدوایي او بعضې ورته سخت مضروایې په دې صورت کې د خلیفه اطاعت واجب دي

**یادابنت :** دمعصیت اوګناه څخه هغه معصیت اوګناه مرادده چې اهل السنة والجماعة اتفاق کړي وي ( دګناه کیدل یې اتفاقی وي ( اود اجتهادي اختلاف ګنجائش په کې نه وي او هر چې هغه څه دي چې دهغې په ګناه کیدو کې اختلاف وي او دا اختلاف په اجتهاد مبني وي نوپه دې باره کې دخلیفه او یادده دنائب نافرماني روانه ده بلکه دحکم اطاعت یې واجب دي ګویاپه اجتهادي مسائلوکې د حکومت رأی باندی به هله عمل کیدای سي چې دادپومنل شوي مجتهد په اجتهاد باندي مبني وي اګر که دا رأی دمامور په نزد ګناه وي مثلا خلیفه او یا دده امیر فوځ ته حکم وکړي چې شکست خورده باغیان تعقیب کړي نو دبعضی امامانو په نزد دا جائز نه دي نو که چیرته مامور شخص په دې امامانو کې دیو امام تا بعداروي اودایی جائزنه ګڼي نوبیاهم دامیر اطاعت په ده واجب دی. (حقاني،۱۴۲۵ هـ ،ج۱ ص۳۹۹)

**۲-دوالدینو(مور اوپلار ) داطاعت حدود**

پراولاد دمور اوپلار اطاعت او دهغوي امر منل فرض دی، ترهغه وخته چې امر يې په معصيت نه وي کړی،الله ﷻ فرمايي:﴿ ووصينا الإنسان بوالديه حسنا وإن جاهداك لتشرك بي ما ليس لك به علم فلا تطعهما﴾ (سورةالعنكبوت:٨) ژباړه: موږ انسان ته د خپلو مور او پلار سره د نېک چلند وصيت کړی دی، خو که هغوی هڅه وکړي چې ته زما سره داسې څوک شريک کړې چې پرې علم نه لرې، نو د هغوی اطاعت مه کوه.

**۳-پر ښځې دخاوند داطاعت حدود:**

پر ښځې دخاوند اطاعت واجب دی،تر هغه وخته چې امر يې په معصيت نه وي کړی،( روت صفية عن عائشة رضي الله تعالى عنهما قالت: إن امرأة من الأنصار زوجت ابنتها، فتمعط شعر رأسها، فجاءت إلى النبي صلى الله عليه وسلم فذكرت ذلك له، فقالت: إن زوجها أمرني أن أصل في شعرها فقال: لا، إنه قد لعن الموصلات) (عبدالباقي،ب،ت،ج ۳ ص۴۳) ژباړه: بي بي صفيه رضي الله عنها له عائشې رضي الله عنها څخه روايت کوي:چې يوې انصاري ښځې خپله لور واده کړه،خو دهغې دسر ويښتان له منځه تللي وو،(ريژيدلي وو) نو داښځه درسول الله صلى الله عليه وسلم حضور ته راغله،او داموضوع يې ورته ياده کړه،هغې وويل:دلور ميړه مې ماته امر کړی چې زه دهغې په سرکې ويښتان ورزيات کړم(وصل يې کړم)نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: نه! ځکه الله تعالى پرهغه ښځو لعنت ويلی دی چې ويښتان نښلوي(وصل کوي).

د دې حديث مبارک په تشريح کې ابن حجر عسقلاني رحمه الله په فتح الباري کې وايي:( لو دعاها الزوج إلى معصية فعليها أن تمتنع، فإن أدبها على ذلك كان الإثم عليه) (عسقلاني، ۱۳۸۰هـ ج۹ ص ۳۰۴) ژباړه: که ميړه خپله ښځه گناه (نافرماني« ته وبلله،نو ښځې ته په کار ده، چې دا کار ونه کړي او که ميړه دهغې پر دې نه منلو تأديب ورکی،نو گناه به يې د ميړه پر غاړه وي.

**داطاعت فضيلت**

داطاعت په فضيلت کې ډير احاديث دي چې يو څو يې په لاندي توگه ذکر کوو:(عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم،قال:من اطاعني فقد اطاع الله،ومن عصاني فقد عصى الله،ومن اطاع الامير فقد اطاعني،ومن عصى الامير فقد عصاني،والامير مجنً) (شيباني، ۱۴۰۰هـ ،ج۲ص ۵۷۰) ژباړه: نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:چاچې زما اطاعت وکی،نويقيناً هغه دالله ﷻ اطاعت وکی،اوچاچې زما نافرماني وکړه،نويقيناًهغه دالله ﷻ نافرماني وکړه،اوچاچې دامير اطاعت وکی،نوهغه يقينا زما اطاعت وکی،اوچاچې دامير نافرماني وکړه نوهغه يقينا زما نافرماني وکړ،او امير سپر دی.

همدارنګه په بل حديث مبارك نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:(من طاعةالله طاعتي،..........ومن طاعتي ان تطيعوا امراءكم،اطيعوا امراءكم.) (موصلي،۱۴۰۴هـ،ج۹ ص ۳۴۰)
ژباړه: دالله ﷻ اطاعت دادی چي زما اطاعت وکئ،او زما اطاعت دادی،چي داولي الامر(حاکمانو) اطاعت وکئ،د اولي الامر(حاکمانو) اطاعت وکئ.

په پورته دواړه حديثونو کي د اولي الامر(حاکم) اطاعت،دنبي کريم صلى الله عليه وسلم اطاعت بلل سوی دی،چي دا داطاعت پراهميت دلالت کوي. دځيړني په بهير کي مو چي کوم څه ولوستل دنوي موندني په توګه يوشمير څرګند ټکي په لاس راغلل چي په لاندي توګه وړباندي بحث کيږي:

۱- په اسلام کي داطاعت حدودو اړوند دلائل وجود لري البته زياتره برخه نقلي دلائل رامنځته کوي، چي دحکم لپاره محوري ټکي ګڼل کيږي چي هغه هم په اجتهادي توګه دفقهي حکم استنباط او را ايستل دي خو اساس اوبنسټ يې ټول نقلي دلائل رامنځته کوي.

۲.ټولو لوستونکو ته به په اسلام کي داطاعت حدودو بيلګي په روښانه توګه وړاندي سي.

**پايله**

دځيړني په بهير کي مو زيات څه ولوستل چي دموضوع اړوند زيات تفصيل وجود درلود خو هغه علمي او اکاډميکي پايلي چي بايد ددې ځيړني له لاري تر لاسه سي په کوټلي توګه ويلای سو چي په اسلام کي داطاعت حدودو موضوع ځيړني په بهير کي دې پايلي ته رسيږو،چي اطاعت دالله جل جلاله او اطاعت درسول الله صلى الله عليه وسلم مطلقاً پرهر مکلف واجب دی. له الله جل جلاله او رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ماسوا،داولي الامر(حاکمانو)،والدينو(مور اوپلار)،اوپرښځه دخاوند اطاعت واجب دی په دې شرط چي معصيت پکښې نه وي. د اطاعت مطلب دادی چي هغه اوامر اونواهي چي په کتاب الله،سنة رسول الله کي دي پوره پرځان باندي منل دي دالله جل جلاله،رسول الله صلى الله عليه وسلم،اولي الامر(حاکمانو)علماوو،والدينو(مور اوپلار) زوج (خاوند) په اطاعتونوکي دعلماوو ترمنځ هيڅ اختلاف وجود نلري،البته دالله جل جلا اورسول الله صلى الله عليه وسلم له اطاعت څخه ماسوا دنورو اطاعت په دې شرط دی چي معصيت به پکښې نه وي.

**مناقشه**

په اسلام کي داطاعت حدودو اړوند چي کومي ځيړني سوې دي ترډيره حده په عربي ژبه کي دي او زموږ افغاني ټولنه له عربي ژبي سره په عموم کي ډيره بلدتيانلري، نو ومي غوښتل چي په خپله پښتو ژبه په اسلامي حکومت کي داطاعت حدودو موضوع وځيړم ترڅو د اطاعت حدود معلوم کړم اوټولنه په

اسانه طریقه په اسلامي حکومت کي داطاعت حدودو موضوع باندي پوه اوپه ژوند کي يې مراعت کړي.

۲- په اسلام کي داطاعت حدود په نورو متونو کي په تيته اومتفرقه بڼه بيان سوي دي او په دې څېړنه کي دا حقونه ټول په يوځاي کي بيان سوي دي.

**وړانديزونه**

۱- دمساجدو علمائي کرامو او دلويو غونډو جوړونکو ته مو وړانديز ده چي په خپلو منبرونو اوعامه ځايونو کي په اسلام کي داطاعت حدودواضح کړي ترڅو عامه پوهاوی رامنځته سي.

۲-دپوهنتون دادارې په مرسته په عامورسنيو کي نشرته وسپارل سي ترڅو زموږ دټولني عام وګړي دموضوع په شرعي حکم پوه سي.

۳-ددي موضوع په نشر سره دټولني غړيو ته يو نوي حکم څرګند او په تعميل به ئی لاس پوري کړي.

**اخځليکونه**


۱-القران الکريم

۲- نيسابوري،مسلم ابن الحجاج ابوالحسن القشيري،وفاة:( ۲۶۱ه)صحيح المسلم کتاب الايمان،حديث نمبر:۸۱ ناشر:داراحياء التراث العربي-بيروت.

۳- افريقي،محمدبن مکرم بن علي،وفات(۷۱۱ه) لسان العرب ،ناشر:دارصادر-بيروت.

۴- علوي،ياسر،معجم المصطحات السياسية، لغت حکومة سلسلة کتب۲۰۱۴ معهد البحرين للتنمية السياسية

۵- جرجاني،علي بن محمد،وفات:(۸۱۶ه)التعريفات - ناشر:ناصرخسرو.

٦- کفوي،ايوب بن موسی الحسيني،وفات:(۱۰۹۴)الکليات، محقق:عدنان درويش،ناشر مؤسسةالرسالة-بيروت.

۷- سيوطي،جلال الدين،وفات:(۹۱۱ه)جمع الجوامع المعروف بالجامع الکبيرمحقق:مختارابراهيم الهائج،ناشر:الازهرالشريف.

۸- داوقافو او اسلامی چارو وزارت(۱۴۰۴-۱۴۲۷س)الموسوعةالفقهيةالکويتية،الکويت:طبع الوزارة دارالسلاسل.

۹- قرطبي،محمد بن احمد،وفات:(۶۱۱ه ق) تفسير القرطبي،تحقيق،احمد البردوني،ناشر: دار الکتب المصرية - القاهرة

۹- غزي، محمدبن محمد،وفات:(۱۰۶۱ه ق) حسن التنبه لما ورد في التشبه ،ناشر دارالنوادر،سوريا.

۱۰- حقاني،الشيخ عبدالباقي،دچاپ کال(۱۴۲۵ه)السياسة والادارة الشرعية في ضوءارشادات خير البرية،المكتبةالحقانية للعلوم الشرعية السياسية

۱۱- عبدالباقي،محمد فؤاد،دچاپ کال:(نلري) اللؤاللؤ والمرجان فيما اتفق عليه الشيخان، ناشر:دار احياءالكتب العربية.

۱۲- عسقلاني،احمدبن علي حجر،دچاپ کال:(۱۳۸۰ه) فتح الباري شرح صحيح البخاري، المكتبةالسلفية- مصر.

۱۳---شيباني،ابوبكربن ابي عاصم احمدبن عمرو،دچاپ کال:(۱۴۰۰)كتاب السنة لابن ابي عاصم، محقق:ناصرالدين،ناشر:المكتب الاسلامي-بيروت.

۱۴- موصلي،احمدبن علي بن المثنى،دچاپ کال:(۱۴۰۴) مسند ابي يعلى، محقق:حسين سليم اسد،ناشر:دارالمأمون للتراث- دمشق

۱۵- شبكةالالوكة. https://www.alukah.net › sharia

۱۶- مسعري،دكتورمحمدبن عبدالله،دچاپ کال:(۲۰۰۲م) طاعة اولي الامرحدودها وقيودها، لجنة الدفاع عن الحقوق الشرعية.

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:2 Issue: 2 Year:1404